بسم الله الرحمن الرحیم

د افغانستان اسلامي امارت

ستره محکمه

د دارالانشاء عمومي رياست

د تحريراتو آمريت

د متحدالمآلونو څانګه

تاريخ: ۱/ ربيع الاول/ ۱۴۴۵ هق
مصادف: ۲۵/سنبله/ ۱۴۰۲ هش

د متحدالمآل نمبر: ۹

عاجل ☐ عادی ☐ اطمینانیه ☐ ابلاغیه ☐ سایر ☐

د افغانستان اسلامي امارت د تميزونو ، ديوانونو، مرافعه او ابتدائيه محکمو قدرمنو منسوبينو ته!

السلام عليکم ورحمت الله وبرکاته

وبعد: د افغانستان اسلامي امارت د ستري محکمې د عالي شورا غونډه په تاريخ ۲۰/محرم الحرام/۱۴۴۵هق چې د ۱۴۰۲ هجري لمريز کال د اسد مياشتې د پنځلسمې نېټې سره سمون خوري، د افغانستان اسلامي امارت د ستري محکمې د محترم رئيس او قاضي القضاة صاحب په مشرۍ دائره شوه چې د يادي غونډې دولسمه موضوع داسي وه: ((د افغانستان اسلامي امارت د عدليې وزارت د علمي، حقوقي تحقيقاتو او قانونګذارۍ عمومي رياست مکتوب نمبر (۱۰۱۹) مورخ ۱۴۴۴/۱۲/۱۸هق سلسلتاً رارسيدلی چې خلاصه يې داسي ده: ((د مدافع وکيلانو د ستاژ د برنامې لومړۍ دوره د مختلفو ولايتونو څخه د راغليو (۱۶۱) ستاژرانو په شمول جريان لري چې د يادو ستاژرانو د مکررې غوښتنې په اساس يې يادونه کړې تر څو په مربوطه ولايتونو کې مدافع وکيلانو ته د محاکمو په اجراآتو د پوهاي په موخه په قضائي جلساتو کې د اشتراک زمينه برابره شي.))

د ستري محکمې عالي شورا د تصويب نمبر (۲) مورخ ۲۰/محرم الحرام/۱۴۴۵هق مصادف ۱۵/اسد/۱۴۰۲هش د دولسمي پريکړې په اساس د يادي موضوع په اړه داسي هدايت وکړ:

((مدافع وکيلان د محاکمو په قضائي جلساتو کې يواځې هغه وخت ګډون کولای شي چې خپله اصالتاً مدعي وي او يا د مدعي لخوا شرعي وکيل ټاکل شوی وي، يا هم خپله اصالتاً مدعی عليه وي او يا د مدعی عليه لخوا شرعي وکيل ټاکل شوی وي، د دغه څخه علاوه په نورو صورتونو کې د محاکمو په قضائي جلساتو کې د مدافع وکيلانو ګډون اصولي نه دی.))

بناءً د ستري محکمې عالي شورا پورته تحرير شوی هدايت د دې متحدالمآل په توسط د افغانستان اسلامي امارت د ستري محکمې مربوط رياستونو، تميزونو، ديوانونو، مرافعه او ابتدائيه محکمو ته واستول شو تر څو د هغه په رڼا کې اصولي اجراآت تر سره شي.

په درنښت

ستره محکمه
رياست عمومی دارالانشاء

مفتي عبدالرشيد "سعيد"

د ستري محکمې

د دارالانشاء عمومي رئيس


Address: Public health Square 9th District, Kabul-Af
Phone: ۰۲۰۲۳۰۰۰۹۲
Post box: ۱۹۸۹
Email: darulinsha@gmail.com
Website: www.supremecourt.gov.af

پته: د صحت عامي څلور لارې، نهمه ناحيه ، کابل- افغانستان
د معاونيت تيلفون : ۰۲۰۲۳۰۰۰۹۲
پست بکس : ۱۹۸۹
ايميل: darulinsha@gmail.com
ويب سايت: www.supremecourt.gov.af